# د برخه اخستلو ګروپ  -- لفلت ( ورقه )

## <u>مونږ څه پیشکش کوو؟</u>

ستاسو د حقونو په هکله **مشوره او مرسته**

**د ماشومانو د حقوقو په هکله معلومات چه پدی کی د ماشومانو نه دفاع شامل دی** که هغه زمونږ تر رعایت لاندی وی یا زمونږ د رعایت نه په وتو کی دی. دا ستا دفاع لپاره هم مرسته کوی. دفاع کونکی ستا سره ولاړ دی هغه دی کی هم درسره مرسته کوی چه یو مشر سړی ستا خبره باید واوری.

**رعایت کی د ماشومانو مجلس** پخپله دهمدی ماشومانو او ځوانو خلکو تر رعایت لاندی ګرځی  دا ځوان خلک غواړی وګوری چه کونسلران ( مشاورین ) او جګ مدیران د ماشومانو په خدمتونو کی د مهمو شیانو نه با خبره دی او  هغه پیشرفته کړی.

**د برخه اخستلو فعالیتونه** ـــ دا ستا لپاره یو چانس دی چه پکی برخه واخلی او د هغو خدمتونو او شیانو په هکله چه تاته مهم ښکاري خپل نظر ووایی.

### <u>څوک دی خدمت نه استفاده کولای شی؟</u>

د برخه اخستلو ګروپ یو خدمت دی چه د ۵ ــ ۱۸ کلنی پوری ( ۲۴ کلنی تر رعایت لاندی او یا د رعایت نه په وتلو کی ) هغه څوک چه مرستی ته ضرورت لری په ایست ایدنګ د یارک شیر په ښاروالی کی او یا د هغی په مربوطه علاقه کی اوسیږي.

## <u>ولی؟</u>

مونږ پدی خبره عقیده لرو چه ماشومان او ځوان خلک مهم دی دهغوی خبره باید واوریدل شی او کوم خدمتونه چه دوی ورنه استفاده کوی او کومی فیصلی چه ددوی په ژوند باندی تاثیر کوی ددوی نظرباید پکی واخستل شی .

### <u>آیا مونږ مرسته کولای شو ؟</u>

## مونږ سره رابطه ونیسی که چیرته :

- ته غواړی د خپلو حقوقو په هکله نور معلومات غواړی
- ته غواړی که چیرته ستا هکله کومی فیصلی کیږی ستا نظر پکی واخستل شی
- ته غواړی یو آزاد سړی ستا د مرستی لپاره ستا نظریات وړاندی کړی
- ته د یو شی په هکله د خفګان احساس کوی یا غواړی شکایت وکړی
- ته غواړی په یو مجلس کی یا د یو دوباره نظر اچولو کی تا سره مرسته وشی یا غواړی مطمین شی چه ټول شیان تاته صحیح شرحه شوي دي
- ته تر رعایت لاندی اوسیږی او غواړی چه د آزاد ملاقات کونکی کوم چه ستا ملاقات ته راځی د هغی په هکله نور معلومات ولری

- غواړی په هغه ټریننګ کی برخه واخلی کوم چه مشرانو سره مرسته کوی تر څو هغوی د ماشومانو او ځوانو خلکو په مهمو کارو باندی پوه شی او تا سره باید څرنګه سلوک وکړی
- غواړی سټاف ( کارګران ) پیدا کړی او ورسره مصاحبه وکړی کوم چه د ماشومانو په خدمتونو کی کار کوی

## پټوالی -- هغه چه شی دی؟

هر شی چه برخه اخستلو ګروپ ته ووایی هغه پټ پاتی کیږی هغه ستا او د کارکونکو تر منځ پاتی کیږی مګر که مونږ پوه شوچه ته په خطره کی یی نو بیا مونږ دا معلومات نورو ته رسوو ترڅو ته محفوظ پاتی شی خو تاسره پدی هکله اول مشوره کوو.

## د برخه اخستلو ګروپ نه ته څه غواړی ؟

- چه تا سره په احترام سره سلوک وشی
- کوم شی چه ته وایی مونږ باید هغه واورو
- مونږ خپل ټول کوښښ کوو چه ستا مشکل حل کړو یا هغه څوک پیدا کړو چه مرسته کولای شی
- زمونږ خبری رښتیا او سپینی دی
- مونږ تاته ددی خبری چانس هم درکوو چه د خدمتونو په ښه والی کی برخه واخلی او د تقدیر نامی د جایزی په اخستلو کی مونږ درسره مرسته کولای شو
- د برخه اخستلو ګروپ په هکله ستا نظر اخلو- ستا تظریات مونږ ته ډیر مهم دي زمونږ د خدمتونود ښه والی لپاره مرسته کوي.

## ستا حقونه

د ملل متحد ټرون د ماشومانو د حقوقو ( UNCRC) په هکله وایی ته دا حق لری چه:

- تا سره انصاف سره سلوک وشی
- هر رنګه پوښتنه کولای شی
- ستا خبری باید واوریدل شی
- هغی فیصلی چه تا پوری اړه لری ته پکی خپل نظر ورکولای شی
- هر شی تا ته شرحه شي
- ته د امن احساس وکړی

**د ماشومانو او ځوانو خلکو برخه اخستلو ګروپ**

**99 Manor Way**

**Anlaby**

**HU10  6 TN**

ټلفون:۰۱۴۸۲۳۹۶۸۲۸

[www.rights4u.org.uk](http://www.rights4u.org.uk)

Email: rights4u@org